د ۱۳۹۷ مرغومی

شمشاد پسرلی او زلمی ماليار

# د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهيسي د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو او عملي کړنو پرتله

## سریزه

په تاريخي توګه افغانستان د پياوړو واکمنانو لخوا اداره شوی دي. د قواوو د بېلوالی مفکوره د ۱۹۲۴ کال اساسي قانون تر تصويب پورې، کوم چی پدې هڅه کی وو ترڅو د قانون جوړونې او څار له پلوه د يو واکمن پارلمان د رامنځته کولو پواسطه ولسواکی (ديموکراسی) بنسټيز کړی، وده ونکړه. په هر ترتيب، په افغانستان کې د پارلماني ډموکراسۍ موده لنډه وه ځکه په هيواد کی د هغې د ودې او غوړېدلو لپاره مساعد شرايط موجود نه وو. له همدې امله، پارلمان موثريت نه درلود او د اجرائيه او مقننه قواوو ترمنځ د اړيکو په ټينګښت کی پاتې راغی. د لسو کلونو څخه په لږه موده کې پارلمان پنځه حکومتونه بدل کړل، چی دا کار په هيواد کې د بې ثباتۍ او بحران سبب وګرځېد. د ۱۹۷۳ کال راهيسی، هغه مهال چی د ۱۹۲۴ کال د اساسي قانون په رڼا کی رامنځته شوی نظم له منځه ولاړ، بيا تر ۲۰۰۱ کال پوری، افغانستان يو فعاله او کاری پارلمان نه درلود.

د ۱۳۸۰ کال په آخره کې د طالبانو د رژيم تر نسکورېدو وروسته په افغانستان کي نوی سياسي پړاو پيل شو. په ۱۳۸۲ کال کې د نوی اساسي قانون تصويب، د يوه پياوړي دوه جرګه ييز پارلمان جوړيدو ته، چی پکی د قواوو د تفکيک اصل هم منل شوی وو، لاره هواره کړه. د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون پداسی توګه چمتو شوی وو چې پکی پارلمان ته پام وړ تقنينی او د سياسي څارنې واکونه ورکړل شوی وو. ددې قانون د مسودې چمتو کوونکو تمه درلوده چې يو ټاکلی پارلمان به د افغانستان په څېر جنګ ځپلی هيواد کی د استازولۍ ډموکراسۍ د تطبيق په لار کې يو مهم بنسټ ثابت شی. دوی همدارنګه باور درلود چې داسې يو پارلمان کولی شي د اجرائيه قوې په څارنه کې ډېر زيات اغيزمن وي.

په هر حال، د تيرو ۱۳ کلونو تجربه ښيي چې د ۲۰۰۴ کال د تمې برعکس پارلمان لږ کارونه ترسره کړي. د يو نامناسب ټاکنيز سيستم تر څنګ د حکومت سيستماتيکه لاسوهنه او د اشخاصو پر بنسټ سياست ددې لامل ګرځيدلی تر څو يو نامنظم، ويشلی او ناهمغږی پارلمان رامنځته شی. پر دې سربيره، پارلمان ندی توانيدلی چی خپل ځينی واکونه په اغېزمنه توګه وکاروی د مثال په توګه د ځانګړو څېړنيزو کميسونونو جوړول تر څو وکولی شی د پارلمان بنسټيز ظرفيتونه لوړ کړي. ددې پرځای، د پارلمان غړو اکثراً د خپلو واکونو لکه د وزيرانو د استيضاح او عزل د حق څخه د خپلو شخصی، قومي، مذهبي او سمتی ګټو د تأمين د وسيلې په توګه کار اخيستی.

د پاليسۍ دا يادښتی څېړنه په تيره لسيزه کی د پارلمان له لوری د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کي د واکونو د کارونې د څرنګوالی موضوع ارزوی. په همدې ډول دا څېړنه د اوسنيو ستونزو د حل لپاره او دا چی څرنګه کيدای شی په اساسی قانون کی د پارلمان د واکونو د پياوړتيا له لارې په افغانستان کې لازيات اغيزمن او دوام وړ پارلمان رامنځته شی، سپارښتنې وړاندی کوي.

## میتودولوژی

ددې راپور لپاره څېړنه د لومړنيو معلوماتو د راټولولو او د دوهم لاس موادو (سرچينو) د بياکتنې پر بنسټ ترسره شوی. لومړنی معلومات د پارلمان د اوسنيو او پخوانيو استازو سره د مرکو، د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون د مسودې چمتو کوونکو او همدارنګه د مدني ټولنو د هغو غړو سره د خبرو له لارې، چې د تيرې لسيزې په موده کی يی د پارلمان فعاليتونه له نږدې څارلی، ترلاسه شوي دی. پدې څېړنيز راپور کې، په ۱۳۸۰ او ۱۳۸۲ کلونو کي د اساسي قانون د چمتو کولو پر مهال کارول شوی اړوند لومړنی آرشيف شوی مواد هم کتل او څېړل شوي دی.

## کلیدي موندنې

### د اساسي قانون په رڼا کې د پارلمان واکونه

#### د پارلماني دندو په اړه د واضح قانوني صلاحیت نشتوالی

د افغانستان ۱۳۸۲ کال اساسي قانون، د بل هر پخواني اساسي قانون په پرتله پارلمان ته زیات واکونه ورکړي دي. خو سره لدې، په اساسي قانون کې ددغو واکونو په اړه او دا چې څرنګه باید وکارول شي، د پام وړ ابهامات شتون لري. په نتیجه کې دغو ابهاماتو په عمل کې د پارلمان اختیارات په منفي توګه اغیزمن کړي دي. پر دې سربیره، اجرائیه قوې د اساسي قانون دغه ابهامات پداسې ډول د ځان په ګټه کارولي چې په پایله کې د پارلمان دریځ کمزوری شوی دي.

#### اجرائیه قوه د قانون جوړونې ډېر زیات واک لري

دې څېړنې وښودله چې د تیرو دوو دورو په بهیر کښې پارلمان ډېرې لږې لاسته راوړنې لرلی، ځکه چې اساسي قانون تر ډېره حده اجرائیه قوې ته د قانون جوړونې زیات واکونه ورکړي دي. د بیلګې په توګه، اساسي قانون حکومت ته واک ورکړی تر څو د پارلمان د تصویب پرته مقررات چمتو کړي؛ په ورته ډول، ولسمشر ته واک ورکړل شوي چې د پارلمان د رخصتۍ پر مهال او د بیړني حالت په موده کې د تقنیني فرمانونو پواسطه قانون وضع کړي. د وروستیو کلونو تجربې ښیي چې ولسمشر دغه اختیار د یو فرصت په توګه کارولي او پواسطه یې هغه قوانین نشر کړي چې نوموړې ویره درلوده پارلمان به یې رد کړي. دا ډول ډیری فرمانونه پارلمان ته د تصویب لپاره ندي لیږل شوي او ددوی حقوقی حیثیت ناڅرګنده دي.

#### د پارلماني ټاکنو لپاره نامناسب ټاکنیز سیستم

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د مسودې چمتوکوونکو د پارلماني ټاکنو لپاره یو ځانګړی سیستم ندی مشخص کړي، او ظاهراً دا کار یې د ولسمشر کرزي انتقالي ادارې ته وسپاره تر څو پدې اړه پرېکړه وکړي.[1] د هغه مهال حکومت، د رای ورکولو انفرادی غیر قابل انتقال سیستم غوره کړ ځکه چې تر ټولو آسانه او ساده وو، او سیاسي ګوندونو شتون نه درلود تر څو د یو بل سیستم لکه د تناسبی استازولۍ د سیستم څخه ملاتړ وکړي. د تیرو دریو دورو پارلماني ټاکنو (۲۰۱۰، ۲۰۰۵ او ۲۰۱۸) وښودله چې د انفرادی غیر قابل انتقال رایو پر بنسټ ټاکل شوي پارلمانونه، بې نظمه او ویشلي وو، او ونه توانېد چې په همغږۍ توګه ګام اوچت کړي.

#### په پارلمان کې دننه د همغږۍ او انسجام نشتوالی (په ځانګړې توګه په ولسي جرګه کې)

د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۰ پارلماني ټولټاکنو پایلې ښیي چې ولسي جرګې ته د بیلابیلو دیني، قومي او سیاسي مخینو درلودونکو نوماندانو لاره موندله (وټاکل شول).[2] دغه ډول ګڼوالی او تنوع څه بده خبره نده؛ لیکن، کله ناکله د وکیلانو ترمنځ د سیمه ییزې همکاری او د محدودو همفکرو کسانو ترمنځ د اتحاد پرته، د داسې بیلابیلو مخینو درلودونکی کسان پدې ونه توانېدل تر څو داسې ائتلافونه رامنځته کړي کوم چې ددوی د ډلګیو د ګټو هاخوا فعالیت وکړي. په نتیجه کښې، په پارلمان کی دننه یو موټی دریځ شتون نلري. ځینی مهال ولسي جرګه د « یو ویشلی سازمان او داسې بنسټ چې پکی زیات شمېر ګوندونه د متغیرو او اکثراً نه توپیر وړ غړو او مرامونو سره فعالیت کوي» ، بیانیږي.[3] داسې ښکاري چې په پارلمان کې د انفرادي غړو د شمېر سره برابر سیاسي ګوندونه شتون لري، چې دا په ولسی جرګه کې دننه د تشکیل، نظم او انسجام د نشتون سبب ګرځیدلي.

### د پارلمان کړنې (فعالیتونه)

#### د قانون جوړونې په برخه کې د پارلمان لاسته راوړنې

یو له مهمو دندو څخه چې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پر بنسټ د افغانستان پارلمان ته ورکول شوی دي قانون جوړونه ده. لیکن پدې برخه کښې پارلمان په عملی توګه ضعیف فعالیت ترسره کړی دي. د تیرو دوو دورو په بهیر کښې پارلمان یوازې توانېدلی چې په خپل ابتکار پنځه قوانین تصویب کړي.[4] پاتې تقنیني اسناد کوم چې افغانستان د طالبانو د رژیم له نسکورېدو وروسته چمتو او عملی کړی د اجرائیه قوې لخوا وړاندیز شوي. دا ځکه چې پارلمان په خپل ابتکار د قانون جوړونې لپاره اړین ظرفیت نلري، چی له امله یی پارلمان په منفعله توګه د اجرائیه قوې لخوا لیږل شوی قوانین تصویبوی، او په ځینو مواردو کې، د قانون جوړونې په اړه یی فیصلې د اجرائیه قوې لخوا له پامه غورځول شوی.

#### د پارلمان څارنیزې دندې

په عملی توګه د پارلمان د څارنې د دندې په اړه ګډې پایلې ترلاسه شوی دي. له هماغه پیل څخه، پارلمان د ولسمشر له لورې لوړو دولتی مناصبو لپاره نومول شوی نوماندان رد کړل، او د کابینې د وزیرانو د ډله ییز تائید پر ځای یی د هر یو لپاره د انفرادی تائید شرط ته رایه ورکړه.[5] د دغو اقداماتو له لارې، پارلمان هڅه وکړه تر څو پر اجرائیه قوه خپل اغیز زیات کړي. خو د وخت په تېریدو سره، پارلمان په

---

۱ اندرو رینولدز، «د نن ورځې ټاکنیز سیستمونه: د افغانستان نایابه مثال،» د دیموکراسی ژورنال ۱۷، نمبر ۲. (۲۰۰۲) ۱۰۴، ۱۰۲، ۱۱۷.

۲ نیلوفر صدیقي، «په سیاسي ګوندونو او په افغانستان کې د خپلواکو قانون جوړونې وده»، نمبر ۴ (۲۰۱۳).

۳ صدیقي، «د سیاسي ګوندونو وده او په افغانستان کې د خپلواکي قانون جوړونه».

۴ پدې کې د ملي سازش کوونکو او د عمومی بخښنې قانون د ۲۰۱۴ کال ، د پارلمان غړې د امتیازاتو او معافیت قانون، په ۲۰۱۲ کې، د ښځو او ماشومانو د ژغورنې قانون د ۲۰۱۴، د ډیپلوماتیک او قونسلګرۍ کارکونکو قانون، او د خپرونې په اړه د قانوني اسنادو اعلان کول د ۲۰۱۷ کال کی شامل دي.

۵ کنت کاتزمن، « «افغانستان: سیاست، ټاکنې او د حکومت فعالیت» (واشنګټن، ډی سي، د کانګرس تحقیقاتي خدمتونه، ۲۰۱۵، )، ۷، https://fas.org/sgp/ pdf.crs/row/RS۲۱۹۲۲ کې موجود دی؛ (د جون ۱۷، ۲۰۱۸ لاس رسی).

اغېزمنه توګه د خپلې څارنې د واک د عملی کولو لپاره غورځي پرځی پیل کړې، او ددې تر څنګ وکیلانو د پارلمان د پیاوړتیا پر ځای، د څارنې میکانیزمونه (احضار، استیضاح او د نه باور رایه) د خپلو شخصي ګټو لپاره وکارول.

**د اجرائیه قوې او پارلمان ترمنځ ترینګلې اړیکې**

د اجرائیه قوې او پارلمان ترمنځ اړیکې په وروستیو څو کلونو کې له نانډریو ډکې وې. په ډېرو مواردو کې اجرائیه قوې د پارلمان پریکړې بابیزه ګڼلې او هغه وزیران چې پارلمان ورته د نه اعتماد رایې ورکړې په خپلو منصبونو ساتلي او یا یې په هغو قوانینو کې چې پارلمان تصویب کړې بدلون راوستلي. په عوض کې پارلمان د کابینې انفرادیغړې له خپلو منصبونو ګوښه کړې او لدې لارې یې د ولسمشر لپاره ستونزې جوړې کړې. د حکومت ددغو دوو قواوو ترمنځ نانډریو د پارلمان فعالیت په منفي توګه اغیزمن کړی.

## سپارښتنې

د تیرو ۱۴ کلونو په موده کې د اساسي قانون تطبیق ددې قانون کمزورتیاوې څرګندې کړې او هغه موارد چې باید ورته جدي پاملرنه وشي او یا بدلونونو ته اړتیا لري په ګوته شوی. په اساسي قانون کی یوه اصلاح باید د پارلمان د دندو او اختیاراتو په برخه کی راوستل شی. په ځانګړی توګه افغانستان باید د پارلمان د قانونی مکلفیتونو او کړنو د لا پیاوړتیا لپاره لاندی ګامونو پورته کړي:

**په لنډه موده کښی**

**د افغانستان د ټاکنو بنسټونه باید پیاوړی شی**

د نیمګړی ټاکنیز سیستم د شتون له امله هر ځل چی د پارلمان د ټاکلو لپاره ټاکنې ترسره شوی، هیواد د سیاسی بحران پر لور تللی دي. ټاکنیزې شخړې معمولاً د قضایي او سیاسي میکانیزمونو او د افغانستان د ټاکنیزو بنسټونو یعنی د ټاکنو خپلواک کمیسیون او یا د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د ګډون پرته حل کیږي، چی دا د دواړو بنسټونو د کمزورتیا سبب ګرځیدلی. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د غړو د ټاکلو لپاره یو روښانه سیستم او د هغې د روڼتیا او واضح قواعدو پیاوړتیا چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو د خپلواک کمیسون دندې او جوړښت مشخص کړی، کیدای شي ددغو دوو بنسټونو د پیاوړتیا سره مرسته وکړي. د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په میاشت کې د افغانستان وروستیو پارلماني ټولټاکنو هغه ستونزې څرګندې کړې چې دغه دوه بنسټونه ورسره لاس او ګرېوان دی. تر هغو چی په دغو ټاکنیزو بنسټونو کی اصلاحات عملی نشی، افغانستان به ونه توانیږی چی بریالۍ ټاکنې تر سره کړي.

**د انفرادی غیر قابل انتقال رای سیستم باید بدل شی**

دا څیړنه ښیي چې د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون په رڼا کی رامنځته شوی پارلمانونه، کوم چی د انفرادی غیر قابل انتقال رای سیستم پر اساس ټاکل شوی، په پام وړ توګه ویشلی او نامنظمه وو او پدې ونه توانیدل چی د اجرائیه قوې پر کړنو څارنه وکړی. له همدې امله، افغانستان باید انفرادي غیر قابل انتقال رایې ورکولو سیستم یو داسی سیستم ته تبدیل کړی کوم چې په پارلمان کې دننه د لازیاتې همغږۍ او انسجام سبب ګرځی. ډیری متخصصین دې ټکي ته اشاره کوي چې باید د تناسبی استازولۍ یو ډول سیستم، یا د لومړی کس انتخاباتی سیستم (First past the post)، او یا هم د وړو ټاکنیزو حوزو لپاره د مستقیم استازیتوب سیستم وکارول شی.

**د پارلماني څارنې قانون باید چمتو شی**

سره لدې چی د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د هر بل پخوانی اساسی قانون په پرتله پارلمان ته زیات واکونه ورکړي دي، مګر پارلمان ددې واکونو څخه په موثره توګه ګټه نده اخیستې. پارلمان باید خپل د څارنې واک، په ځانګړې توګه د کابینې د وزیرانو د عزل او تائید حق، په سیستماتیک ډول زیات وکاروی. پدې اړه، یو داسی قانون باید تصویب شي کوم چی په واضح ډول بیان کړی کله او څنګه باید پارلمان خپل د څارنې میکانیزم وکاروي (احضار، استجواب، استیضاح، او د نه باور رایه). پر دې سربیره دا قانون باید د نه باور رایی د کارونې پایلې او عواقب هم بیان کړی.

**د منظمو پارلماني ډلګیو د جوړېدو هڅونه**

په افغانستان کې د رای ورکولو انفرادي غیر قابل انتقال سیستم ندی توانېدلی ترڅو سیاسی ګوندونه په ټاکنو کی برخې اخیستنې ته وهڅوی، او پر ځای یی د یو ډیر زیات ویشلی پارلمان د رامنځته کیدلو سبب ګرځیدلی. پارلمان باید د ځواکمنو افرادو پر ځای د مشخو آیډیالوژیو او نظریاتو پر چاپېر د پارلماني ډلګیو د جوړولو لپاره جدي ګامونه پورته کړي. دا ډول اقدام ممکن په پارلمان کی دننه د انسجام سبب شی او همدارنګه په همغږی توګه پر اجرائیه قوې د زیاتې څارنې سره مرسته وکړي.

**په اوږد مهال کې**

**د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون تعدیل او د پارلمان قانوني اختیارات دې واضح شي**

د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې داسې مادې هم شتون لرې چې د پارلمان د قانون جوړونې دندې کمزوري او له پامه غورځوی (د بیلګې په توګه، د ولسمشریزو فرمانونو له لارې د قانون جوړول، د پارلمان د ګډون پرته د حکومت لخوا د مقرراتو چمتو کول). که چیرې د اجرائیه قوې د قانون جوړونې صلاحیت محدود نشې، د پارلمان تقنیني واک به مختصر او محدود وي. په ورته ډول، پدې اړه چې د پارلمان پنځه کلنه موده کله پای ته رسیږي په اساسي قانون کې ابهام شتون لرې. په حقیقت کې همدې ابهام په ۲۰۱۵ کال کې هغه مهال یو قانوني بحران رامنځته کړ کله چې د پارلمان موده پای ته ورسیده او حکومت ونه توانید چې پرځای یې د بل پارلمان د جوړېدو لپاره پر وخت ټاکنې ترسره کړي. له همدې کبله، د اساسي قانون په تعدیل کې باید د پارلمان تقنیني واکونه په واضح توګه په ګوته شي، او تر دې هم مهمه دا چې د پارلمان موده باید مشخص شي.

**د اجرائیه او مقننه قواوو ترمنځ د شخړو د حل یو میکانیزم باید رامنځته شي**

د افغانستان په اساسي قانون کې د شته تشو څخه یو هم د اجراییه او مقننه قواوو ترمنځ د شخړو د حل لپاره د واضح میکانیزم نشتوالی دی. سترې محکمې هڅه وکړه تر څو سیاسي اختلافات حل کړي، مګر پداسې مواردو کې ددې ارګان واک په جدي توګه ونګول شو، او له هغې را وروسته دې محکمې داسې کومه هڅه نده کړې. له همدې امله، افغانستان یو داسې بنسټ ته اړتیا لري چې وکولی شي د مقننه او اجرائیه قواوو ترمنځ سیاسي شخړې په بې پرې توګه حل کړي. د افغانستان د سیاسي قشر ترمنځ پدې اړه تر ډېره هوکړه شته چې اساسي قانون باید تعدیل شي ترڅو د اساسي قانون لپاره بیله محکمه جوړه، او د اجرائیه او مقننه قوې ترمنځ د سیاسي شخړو د حل لپاره هغه پیاوړې شي. که څه هم د داسې محکمې جوړېدل به د اساسي قانون نورو تعدیلاتو ته هم اړتیا ولري، داسې ښکاري چې دا به یوه ډیره اغیزناکه سپارښتنه وي.

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د متحده ایالاتو د سولې انسټیټوټ د نظریاتو منعکس کونکې ندي.

د خپروني کوډ: ۱۹۰۲P

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څیړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څیړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څیړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څیړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څیرنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څیړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکې ده او په منځنۍ آسیا کې د څیړنیزو بنسټونو په منځ کې په شپږم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څیړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څیرنې او ارزونې اداری له څیړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څیړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د شرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، څینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په بریتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

